# په Washington ایالت کې د لارې حق العبور ورکول

## سیستم څنګه کار کوي

په Washington کې هر څوک حق العبور اخیستونکی سړک کارولی شي.

که تاسو *Good To Go!* حساب لرئ، نو د لارې حق العبور به په اتومات ډول پرې واچول شي. که حساب نه لرئ، نو د خق العبور اخیستونکي سړک تر کارولو وروسته به د موټر راجستر شوي مالک ته یو بېل واستول شي.

ټول هغه موټرونه به حق العبور ورکوي چې د SR 520 پل، SR 99 تونل، SR 509 ایکسپریسوې او تاکوما ناروز پل (Tacoma Narrows Bridge) کاروي.

موټر چلوونکي په SR 167 او I-405 ایکسپریس خق العبور اخیستونکو لینونو کې دا غوراوی لري چې د سفر لپاره ګړندي او ډېر باوري حق العبور ورکړي یا که د نوبتي موټر چلولو شرایط پوره کړي، نو وړیا سفر وکړي.

## د خق العبور ورکولو غوراوي

- د *Good To Go!* کارت یا پاس - دا ډاډمنوي چې تاسو د سفر په هر حق العبور کې تر ټولو ټیټ نرخ ادا کوئ. د کارتونو قیمت $5-$15 دی.
- *Good To Go!* Pay By Plate (د پلیټ له لارې اداینه وکړئ) - تاسو به د *Good To Go!* د پاس یا کارت نرخ ادا کړئ او د هر سفر لپاره اضافي 25 سینټ فیس هم ورکړئ.
- Pay By Mail (د پسټ له لارې اداینه وکړئ) - تاسو باید تر $2 ډېره اداینه وکړئ
  د *Good To Go!* کارت یا پاس نرخ د هر سفر لپاره.

که تاسو په پسټ کې بل ترلاسه کړئ، کولی شئ په MyGoodToGo.com کې په انلاین ډول ادا کړئ یا د پیرودونکو خدمتونو ته د ټیلیفون له لارې 1-866-936-8246 شمېرې ته په زنګ وهلو سره ادا کړئ.

## څنګه په I-405 او SR 167 کې د نوبتي موټر چلوونکي په توګه وړیا سفر وکړئ

د SR 167 او I-405 ایکسپریس حق العبور لینونو کې د وړیا سفر کولو لپاره باید *Good To Go!* حساب، د HOV حالت ته ټاکل شوی Flex Pass (فلیکس پاس) او د ورځې د وخت لپاره په موټر کې د خلکو سمه شمېره ولرئ.

| د I-405 ایکسپریس حق العبور لینونو لپاره د نوبتي موټر چلولو اړتیاوې | | |
|---|---|---|
| د اونۍ ورځې سهارونه | د سهار له 5 څخه د سهار تر 9 بجو پورې | +3 کسان |
| د اونۍ ورځې نیمه ورځ | د سهار له 9 څخه د ماسپښین تر 3 بجو پورې | +2 کسان |
| د اونۍ ورځې ماسپښینونه | د سهار له 3 څخه د ماښام تر 7 بجو پورې | +3 کسان |

**د I-405 ایکسپریس حق العبور اخیستونکي لینونه وړیا دي او د شپې له خوا او د اونۍ پای ورځو کې د ټولو لپاره پرانیستي دي.**




*په Washington ایالت کې د حق العبور اخیستونکو سړکونو یوه نقش*

| د SR 167 ایکسپریس حق العبور اخیستونکو لینونو لپاره د نوبتي موټر چلولو اړتیاوې | | |
|---|---|---|
| د اونۍ ورځې او د اونۍ د پای ورځې | د سهار له 5 څخه د ماښام تر 7 بجو پورې | +2 کسان |

**د SR 167 ایکسپریس حق العبور اخیستونکي لینونه وړیا دي او د شپې له خوا د ټولو لپاره پرانیستي دي**

## د *Good To Go!* *حساب په پرانیستلو سره پیسې وسپموئ*

د *Good To Go!* *حسابونه په* Washington کې په هر حف *العبور اخیستونکي* سړک *باندې په سفر کې پیسې وسپموئ* د حساب پرانیستل وړیا دي او تر 20 دقیقو کم وخت نیسي.

- **پیسې وسپموئ:** *Good To Go!* اکونټ او پاس لرونکی موټر چلوونکي د Pay By Mail (پست ادایني له لارې) په پرتله په هر حق العبور اخیستونکي سفر کې $2 سپموي.
- **وخت وسپموئ:** د اتوماتې ادایني داسې آپشن انتخاب کړئ چې ستاسو لپاره غوره کار کوي ترڅو تاسو په پست کې د بیلونو په اړه اندېښنه ونه لرئ.
- **وړیا دی:** میاشتنی فیس نشته او تاسو اړ نه یاست چې مخکې له مخکې حق العبور ورکړئ. د *Good To Go!* پاس یا کارت پېرل اختیاري دي.

## د *Good To Go!* حسابونو ډولونه

- **Pay As You Go (له کاروني سره همهاله اداینه):** حق العبورونه په میاشت کې دوه ځله پر کریډټ کارت اچول کېږي. دغه وړیا دی چې پرانیستل شي.
- **مخکې اداینه:** له تاسو غوارې چې مخکې تادیه شوی یا پرې پیډ بیلانس وساتئ چې هر ځل چې تاسو حق العبور اخیستونکی سړک کاروئ، له حق العبورونو څخه را کمیږي.
- **لنډمهاله:** لنډمهاله حساب اجازه درکوي چې د دوو اونیو لپاره یو حساب پرانیزئ چې وروسته حساب په اتومات ډول بندیږي. تاسو د لنډمهاله حساب لپاره پاس یا کارت ته اړتیا نه لرئ، یوازې ستاسو د license plate (جواز پلیټ) او credit card (کریډیټ کارت).

## که *Good To Go!* اکونټ نه لرئ، څنګه حل العبور ورکړئ

که تاسو *Good To Go!* اکونټ نه لرئ، لاهم کولی شئ پر حق العبور اخیستونکي سړک باندې سفر وکړئ او تر خپل سفر وروسته به په 30 ورځو کې د پست له لارې بېل ترلاسه کړئ. وروسته له دې چې تاسو بېل ترلاسه کړئ، لاهم کولی شئ د *Good To Go!* اکونټ په پرانیستلو سره یې راکم کړئ، چې د بېل ادا کولو پر مهال په انلاین ډول یا د پیرودونکو خدمتونو ته په زنګ وهلو سره ترسره کیدی شي.

دغه راز دا هم اسانه ده چې د بېل په اړه آنلاین په MyGoodToGo.com یا د پیرودونکو خدمتونو ته په زنګ وهلو سره اختلاف وکړئ.

## که خپل بل ادا نه کړئ، نو څه کیږي

که تر ټاکل شوې نیټې پورې خپل حق العبورونه ادا نه کړئ، نو $5 ناوخته فیس به له تاسو واخیستل شي. که تاسو په 80 ورځو کې خپل حق العبورونه ادا نه کړئ، نو تاسو به د هر نا ادا شوي حق العبور لپاره تر $40 مدني جریمې خبرتیا ترلاسه کړئ. که د موټر مالک په 20 ورځو کې د مدني جریمې ستونزه حل نه کړي، د لایسنس یا جواز ورکولو څانګه (Department of Licensing) ممکن د موټر راجستریشن وځنډوي.

WSDOT یو پروګرام لري چې کولی شي ناوخته فیس او جریمې یو ځل معاف کړي، که تاسو اصلي حق العبور ادا کړئ. د پروګرام په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د پیرودونکو خدمتونو ته په 1-866-936-8246 شمېرې سره زنګ ووهئ.

## د حق العبور ورکولو په هکله پوښتنې لرئ؟

آیا تاسو د حساب پرانیستلو یا بېل ورکولو کې مرستې ته اړتیا لرئ؟ د حساب پرانیستلو یا د حق العبور د بل ادا کولو لپاره په مهربانۍ سره زموږ MyGoodToGo.com ویبسایټ ته مراجعه وکړئ.

که په بله ژبه کې مرستې ته اړتیا لرئ، په مهربانۍ سر د پیرودونکو خدمتونو ته په 1-866-936-8246 شمېرې سره زنګ ووهئ، زموږ استازي د غوښتنې له مخې کولی شي تر 230 زیاتو ژبو کې له ژباړونکو سره وصل کړي.

---

**عامو وګړو ته د VI سرلیک خبرتیا**
دا د Washington State Department of Transportation's (WSDOT) پالیسي ده چې ډاډمن کړي چې هیڅوک به د نژاد، رنګ، ملي اصل پر بنسټ، څنګه چې د 1964 د مدني حقونو قانون د VI سرلیک لخوا چمتو شوې ده، د یاد وزارت په هر ډول پروګرامونو او فعالیتونو کې له ګډون ونه ایستل شي، له ګټو څخه یې محروم نه شي، یا په بل ډول ورسره تبعیض ونه شي. هر هغه څوک چې باور لري د هغه/هغې د VI سرلیک له خوندیتوب څخه سرغړونه شوې ده، کولی شي له (WSDOT's Office of Equity and Civil Rights OECR) سره شکایت ثبت کړي. د VI سرلیک د شکایت پروسیجرونو او یا زموږ د تبعیض نه کولو مکلفیتونو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، په مهربانۍ سره د OECR د VI سرلیک له همغږي کوونکي سره په 705-7090 (360) اړیکه ونیسئ.

**د معلولو امریکایاتو قانون (ADA، Americans with Disabilities Act) معلومات**
دغه مواد په بدیل فارمټ کې بریښنالیک له لارې یا د وړیا تلیفون شمیره، 855-362-4ADA(4232) ته زنګ وهلو سره د Office of Equity and Civil Rights ته د wsdotada@wsdot.wa.gov شته. هغه کسان چې کاڼه دي یا په اورېدو کې ستونزه لري، کولی شي د Washington ایالت ریلې ته په 711 شمېرې سره د زنګ وهلو له لارې غوښتنه وکړي.